AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسؤولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارين
۲۰۲۶/۰۳/۰۴

# د پاکستان کرايي پوځ

## (دويمه‌برخه)

تيرو تاريخي پيښو او د پاکستان د هميشني لانجه منو سياستونو بهېر ته په کتو سره ليدل کېږي چې، افغانستان تل له ګاونډي هېواد پاکستان سره د ښو اړيکو پلوي کړى او د متقابلو ښو اړيکو سياست يې خپل کړى دى.

د افغانستان او پاکستان تر مينځ د ديورند د فرضي کرښې ستونزه چې د انګريزي استعمار له لورې پر افغانانو تحميل شوې او اعاده يې د افغانانو قانوني حق دى، مګر بياهم د افغانستان تېرو حکمتونو د خپل دغه قانوني حق د لاسته راوړلو په خاطر هيڅکله په جګړه لاس نه دى پورې کړى.

په ۱۹۴۷، ۱۹۶۵ او ۱۹۷۱ کلونو کې، د هند، پاکستان او بنګلديش په جګړو کې چې د افغانستان له پاره ښه فرصت غوره شوي و، ولې بيا يې هم د ښه ګاونډيتوب اصل ته د درناوي له امله د بې طرفۍ سياست غوره کړى، د هند سره يې هم د نږدې اړيکو پاليسي ته تل پاملرنه کړې ده. د پاکستان په وړاندې د تاريخي ترينګلتيا (د ډيورنډ کرښې د لانجې له امله) سوله ايزه لار عملي کړې ده. افغانستان په ټولو جنګونو کې د ډيپلوماتيکې حل لارې مشوره او پلوي کړې او د سيمې د بې ثباتۍ په اړه يې انديښنه ښودلې او هڅه يې کړې چې په مستقيمه توګه په جګړه کې ښکيل نشي. دا يو حقيقت دى چې د پنجاب اجېر کرايه شوى پوځ تل په سيمه کې د استعماري تاقتونو د ګټو او ستراتيژيکو موخو د پلې کولو په خاطر نيابتي جګړو، ناخوالو او نا امنيو ته لمن وهلې او تاريخ د دغو پيښو ګوا دى.

د بنګلدېش د خپلواکۍ جګړه يا د بنګلدېش د ژغورنې جګړه هغه انقلاب او وسله واله جګړه وه چې د بنګلدېش د ملتپال او خودارادیت د خوزښت له را ولاړېدو سره د پاکستان په غرب کې را وپارېدله او د بنګلدېش په آزادي تمامه شوه. دا جګړه هغه وخت پيل شوه چې د جنتا په نامه پاکستاني مليشې چې په غربي پاکستان کې مېشتې وې کال ۱۹۷۱ د مارچ په پنځه ويشتمه شپه د پاکستان په غرب کې يې د نور اچوونکو عمليات تر سره کړل او په بنګلدېش کې يې نسل وژنه پيل کړه.

د ياد وړ يې بولم چې د پاکستان (پنجابي دولت)د استعمار د موخو له پاره د جوړ شوي پاکستان اجير کرايه شوي اردو په سيمه‌کې يوازې زموږ د ګران هېواد افغانستان سره ستونزې‌نه‌لرى، بلکې د نورو ګاونډيو هېوادو، هندوستان او حتا ايران سره هم بې لانجو نه دى پاتې شوى، ځکه چې د غه هېواد يو خپلواکه سياست او ستراتيژى نه لرى، بلکې د پرديو استعماري هېوادو ډول ته نڅا کوي.

تاريخ څرګندوي چې د هند او په خاص ډول د افغانستان تاريخي دشمن انګريزي استعمار پاکستان ته ستراتيژي او د خپلو موخو پلان ورکوي، د انګريزانو د دېښمنانه پاليسيو او په تېر تاريخ کې د خپلو تاريخی ماتو د غچ اخيستو په خاطر يې د نوي جوړشوی پاکستان او افغانستان تر مينځ د ديورند د فرضي کرښې موضوع چې د افغانانو قانوني حق و او دى لاجمنه پرېښوده، چې له همغه وخت نه تر اوسه دغه جبري کرښه چې يو ملت يې په غير انسانى او غير بشرى اصولو په دوه برخو ويشلى دى د دغو دواړو هېوادو تر مينځ ستره ستونزه راپېښه کړى چې په قانوني توګه دغه موضوع کې پاکستان په حقه نه دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

د پاکستان په تشکیلاتي جوړښت کې، جمهوري ریاست او وزیر اعظم او تشکیلات یې هسې په سمبولیک ډول شتون لري، چې په لویه کچه او نړیوالوو سیاستونو او پالیسیو کې هیڅ رول او صلاحیت نه لري دغه صلاحیتونه یوازې د پوځ مشرتابه او آی اس آی تنظیموی، چې په سرکې یې انګریزي استعمار او امریکا قرار لري.

امریکا او غربیانو په تیرو شاوخوا پنځه لیسیزو کې په سیمه کې د پاکستان د دغه خرخ شوي او کرایي پوځ پواسطه د سلګونو مدرسو د جوړولو،تامینولو، تربیت او تمریناتو ورکولو له لارې د نړۍ د اکثرو هیوادو اتباع د افراطیت او تیروریستی په بیلا بیلو ګروپونو کې تنظیم او چېرې چې دوي غوښتل هلته یې پرې تروریستي اعمال تر سره کولو، چې افغانستان او هندوستان یې د بیلګې په توګه د یادولو وړ بولم.

د کرایي پوځ اول لاس جرنیلانو د دغه صادقانه، خو په اصل کې رزیلانه خدمتونو له لارې په میلیونونو ډالر تر لاسه کوي، چې له جنرال ضیا والحق نه رانیولې بیا تر همدې عاصم منیره پورې هر یو په ملیونونه ډالر او په بهرکې عالي قصرونه او بلډینګونه لري، د یادو جنرالانو پاملرنه یوازې تر یوه حده پنجاب ایالت او پنجابیانو ته منحصره ده، خو نور ایالتونه د پنجابیانو په نسبت له هیڅ ډول، سیاسي، اقتصادي او ټولسیزو حقونو نه په لازم ډول برخمن نه دي، په خاص ډول پښتانه، د دغو جرنیلانو، له پښتنو او بلوڅو سره ازلي دښمني ده.

د کره راپورونو او واقیعیتونو له مخې د پښتونخوا، وزیرستان او نورو علاقو نه د اپریشنونو له لارې په زرګونو پښتانه وژل شوي، نیول شوي او ترې تم شوي دي.

د اجیر او کرایي پوځ د زور زیاتي، غیرعادلانه عملونو د وطنپالو او عدالت غوښتونو شخصیتونو، علماوو ترور او وژنو،غلطو پالیسیو له امله نن ورځ پاکستان له سخت، اقتصادي، سیاسي، او ټولنیز بحران سره مخ دی، د عمران خان سره غیر قانوني او غیر عادلانه چلند، د دوی په خپله لاس جوړشوي (ټي ټي پي) د پښتنو د حق او عدالت غوښتونکي غورزنګ (پي ټي ایم) د بلوڅو ازادی غوښتونکی غورزنګ او داسې نور عدالت غوښتونکی حرکتونه هغه ګواښونه دي چې د پاکستان د جرنیلانو د ظلم ، تشدد او ظالمانه پالیسیو په مقابل کې را پاڅیدلی او ورځ تر بلې په سترو ځواکونو او ګواښونو بدلیږي.

پورتنیو ناخوالو، نابرابریو، او د کرایي پوځ ناکاره سیاستونو، چلند او پالیسیو عام ولس سخت له اندیښنو سره مخ کړي او ورځ تر بلې د ولسونو او جرنیلانو تر مینځ واټن زیاتیږي، چې داسې غیر عادلانه عملونه په خپله په پاکستان کې د تجزیې له پاره لاره هواروي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ